مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۹/۰۵

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژرونال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو څلور څلوېښتمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

آسیا امام: ۳۶ ـ ۳۹، ۳۲ ـ ۶۶ (ج): دا د وزیر آباد د سویل لویدیځ په ۳۳ مایلی کې یو کلی دی.

آسیا کهنه: ۴۳ ـ ۳۶، ۵۴ ـ ۶۶ (ج): دا د بلخ د سویل ختیځ په ۳ مایلی کې یو کلی دی چې د دِه دادي د سړک په اوږدو کې واقع دی. (میتلند)

اصیل: ـ ۳۵، ـ ۶۸: دا د خرم په ولسوالی کې یو اساسي کلی دی. دې کلي کې د تاجیکانو ۴۵ کورونه دي. (میتلند) *اوسنی نقشې د «کولورو دهسیل[1]» نوم ښیي چې په ۵۵ ـ ۳۵، ۰ ـ ۶۸ (ن) کې واقع دی.*

آستانه: ـ ۳۶، ـ ۶۴: دا د میمنې په ولسوالی کې د غرونو یو خط الرأس دی چې د شیرین تگاب په ښي لور کې له ختیځه د لویدیځ پر خوا پراتـه لري. له «رباط اَودان» څخه ۱۴ مایله ها خوا، د کِلِف ـ شبرغان ـ میمنې ـ کِلِف لاره څانگې بیلوي: ښي لور ته څانگه ئـې په یوویشتم مایل کې ځان دولت آباد ته رسوي؛ کیڼ لور ته څانگه ئـې لویدیځ لور ته د خیر آباد پر لور کږیږي او د (کوهٔ آستانه بابا) له درېو پرله پسې غرنیو څوکو څخه تیریږي؛ دا درېواړه کوتلونه ټیټ او لاره ئـې د اوښانو د تگ لپاره آسانه ده. (پیکاک)

استراب: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا د سرپل د ولسوالی یوه علاقه داري ده. د استراب د دري د شرحې لپاره وگورئ: "د سرپل (سیند)" لنډمهالي مجله د *بلچراغ په ختیځ کې دوه کلي ثبت کړي دي چې یو ئـې په ۴۶ ـ ۳۵، ۴۰ ـ ۶۵ (ج) کې او بل ئـې په ۴۱ ـ ۳۵، ۴۲ ـ ۶۵ (ج) کې موقعیت لري.*

* **اتـَباش**: ۳۱ ـ ۳۷، ۴۵ ـ ۶۵ (ج): ۳۱ ـ ۳۷، ۴۵ ـ ۶۵ (ج): دا د خمیاب د ختیځ په ۴ مایلی کې یو کلی دی.

[1] - Koloro Dahsil

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

آته خان خواجه: ۱۲ – ۳۶، ۴۱ – ۶۴ (ن): دا د میمنې په شمال کې په هغـهٔ ځای کې یو کلی دی چې د قیصر او میمنې سیندونه سره مخامخ کیږي. په دغـهٔ نامـهٔ بل ځای له دې ځایه شمال ختیځ لور ته څو مایله لیرې په ۱۵ – ۳۶، ۴۵ – ۶۴ (ن) کې موقعیت لري.

* **اتم کوه**: ۲۲ – ۳۶، ۵۵ – ۶۷ (ج): دا د حضرت سلطان په سویل کې د ۱۶۹۱ مترو په لوړوالي یو غر دی.

آت چپر: ۱۴ – ۳۶، ۵۲ – ۶۶: دا د صوف د درې په ولسوالی کې یوه دره ده چې له شمال لویدیځ لورې د بندِ امیر پر درې راکوزیږي. دا دره په هغـهٔ ځای کې ۲۰۰ یارده پراخیږي چې د دالان – کیشیندي لاره ورڅخه تیریږي؛ دا دره وچه ده او بستر او ډډې ئـې د خاورو دي: د درې ډډې ۲۰ فیټه لوړې دي. درې ته ورکښته کیدل آسانه دي. لاره ئـې ښی خوا ته کږه کیږي او کښته د درې پر لور ان تر ۲/۱ ۱۰ (۲/۱ ۱۱؟) مایلو پر مخ ځي. که څوک کیشیدهٔ پائـین ته ځي نو له درې څخه یوه لاره کښته تللې ده خو که کیشیندهٔ بالا ته ځئ دلته په کیڼ لور کې یوه ریونده لاره دره نوره یوه شاته پریږي. وروسته دا لاره د چپر له څپاندې یا متموجې دښتې څخه تیریږي او کرار کرار پر یوهٔ لوړ او څرګند کوتل ورخیږي چې د کیشیندهٔ د کوتل په نامـهٔ یادیږي. (امیر خان)

د ګریسباخ د راپور له مخې ښکاري چې د دې درې سویلي څانګه د «لته بند دره» په نامـهٔ یادیږي. لنډمهالي مجله دا دره د سرکار د شمال په ۲۶ مایل کې ثبت کړې ده.

* **آتِ سلوق**: ۴۴ – ۳۵، ۳۱ – ۶۴ (ن): دا په یوهٔ منځګړي کې د «درهٔ المار» په ختیځ او د المار د کلي په سویل لویدیځ کې درې کلي دي.

* **آتورِه**: ۴۷ – ۳۵، ۳۱ – ۶۴ (ج) ؛ دا د میمنې د سویل لویدیځ په ۲۰ مایلی کې یو کلی دی. اوسنی نقشې په دې سیمې کې د «ایتي وروق[2]» نوم ښیي.

* **ایبک**: وګورئ: ایبک

ازان: یا: (دِه عزیزان): ۵۴ – ۳۵، ۵۰ – ۶۴ (ن): دا د میمنې د سویل ختیځ په ۲/۱ ۱ مایلی کې یو کلی دی چې د « تغاجي کوزابي قیچلی[3]» ۲۵ کورونه په کې ودان دي. (ای. بي. سي.) اوسنی نقشې د «دِهٔ عزیزان» نوم ښیي.

* **بابه عبدل**: ۴۶ – ۳۶، ۵۴ – ۶۵ (ج): دا د شبرغان د شمال ختیځ په نیږدې ۱۲ مایلی کې یو زیارت دی.

* **بابه علي**: ۴۲ – ۳۶، ۴۵ – ۶۵ (ن): دا د شبرغان په شمال کې یو کلی دی.

بابه جولاق: ۲۰ – ۳۶، ۵۷ – ۶۵ : دا د سرِ پل د ښار ګوټې د شمال په ۱۲ مایلی کې یو کلی دی چې په کلاته شور کې واقع دی او د «اکزي وزبیکانو[4]» ۴۰ کورنی په کې استوګنې دي. (ای. بي.سي.)

بابه کمبر: قمبر: ۳ – ۳۶، ۱۱ – ۶۸ (ن): دا د ایبکو د سویل – سویل ختیځ په ۱۸ مایلی کې له ایبکو څخه تر دهانـهٔ غورې پورې د تللې لارې په اوږدو کې په سرِ باغ کې یو کلی دی. له ایبکو څخه راغلی سړک وروسته له دې چې له یوې لوړې سطحې څخه واوړي، له بابا قمبر څخه په ۴/۱ ۲۱ مایلې کې د هغې لارې سر ته رسیږي چې د بابه قمبر

[2] - Eti Woruq
[3] - Taghaji Kozabi Kaichalis
[4] - Akzai Uzbaks

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تشي کاسي ته ورکوزه سوي ده. دا ځای د بابه قمبر د کوتل په نامـهٔ یادیږي. د کوتل تر بیخ پوري د کښته کیدلو لاره له ۲۸۰ فیټو څخه د نیږدې ۲/۱ ۱ مایل په واټن ده.

دا کوتل د اوښانو د تګ لپاره عملي کوتل دی. (اې. بي.سي. بومي معلومات)

بابه کم چي: ۲۶ – ۳۶ ، ۱۱ – ۶۷ (ج) : دا د یکه توت او سرِ آسیا تر منځ د تللي لارې په ختیځ کي د یوې په ونو پوښلي اوږدې درې په ښی غاړه کي یو کلی دی، دا اوږده دره لویدیځ لور ته د تندورک په منځغري کي ډوبیږي. د مزار شریف له سویل څخه د دې کلي واټن د سړک له لارې نیږدې ۲۱ مایله دی. وګورئ: آق بولاق، همدا شان وګورئ کافر کلا. (اې. بي.سي.) دا کلی د شور بولک د سویل ختیځ په نیږدې ۷ مایلی کي دی.

بابه قره: ۳۳ – ۳۶، ۳۱ – ۶۷ (ج): دا د تاشقرغان د ولسوالی د «پیر نکچیر[5]» په علاقه داری کي یو کلی دی. دا کلی د پیر نکچیر له لارې (ایبکو ته نیږدې) له دالخاکي څخه تر مزارشریف پورې دریم منزل دی او له یوې ژورې او اوږدې ډبرینې درې څخه په لنډ واټن کي واقع ده، دا دره چي د «سرګه بابه قره[6]» په نامـهٔ یادیږي (د سړک له لارې) شمال کي له پیرنکچیر څخه نیږدې ۱۲ مایله موقعیت لري. د لارې په اوږدو کي یو کوچنی کوتل دی چي د درې د ختیځ د خولې په ۲ مایلی واقع دی او د «زی بابه قره[7]» په نامـهٔ یادیږي ؛ د دې کوتل په ختیځ بیخ کي هغه پراخه او پلنه ځمکنی تشه چي ۴/۳ مایله ارته ده د دشتِ بابه قره په نامـهٔ یادیږي. دې کلي کي د «توله گه چي وزبیکانو[8]» ۵۵ کورنی استوګنې دي. (میتلند) دا کلی د مزارشریف د سویل ختیځ په ۳۰ مایلی کي موقعیت لري.

* **بابه کهنه:** ۴۰ – ۳۶، ۵۶ – ۶۶ (ن): دا بوینقرې ته د تللي لارې په ختیځ او د بلخ په سویل ختیځ کي یو کلی دی.

* **بابه صدیق:** بابا: ۴۸ – ۳۶، ۴۳ – ۶۷ (ن): دا کلدار ته د تللي لارې په اوږدو کي د خلم د شمال په ۱۰ مایلی کي یو کلی دی.

* **بابا ولي:** ۵۵ – ۳۵، ۸ – ۶۵ (ن): دا د مینې پر لارې د بلچراغ په شمال لویدیځ کي یو کلی دی.

* **بابا یادګار:** ۴۲ – ۳۶، ۳ – ۶۷ (ن): دا د بلخ او مزارشریف تر منځ یو کلی دی.

بابا یوسف: ۴۴ – ۳۶، ۵۰ – ۶۶ (ن): دا د مزارشریف په ولسوالی کي د بلخ د شمال لویدیځ په ۴ مایلی کي د «نهرِ دولت آباد» پر غاړه یو کلی دی. د دې کلي اوسیدونکي پټهانان (پښتانـهٔ - ژ) او وزبیکان دي او د هر قوم ۲۰ کورونه په کي دي. (اې. بي.سي.)

بابا زنگي: ۵۱ – ۳۵، ۱۱ – ۶۵ (ن): دا د بلچراغ د سیند پر سر په همدې نامـهٔ کلي څخه ۲/۱ ۵ مایله کښته د لرګیو یو پل دی. پلـهٔ ته نیږدې ځای پلن او آسانه دی خو ډبرین دی، ښی خوا ته ئـي اوږده تنګه دره ده ، د پله له سره له میمنې څخه تر درزآب او سرپل پورې لاره تیریږي. (میتلند) اوسنی نقشي د (پلِ خشتي) نوم ښیي.

بابه لر: ۱۳ – ۳۶ ، ۲۷ – ۶۸ (ن): دا د لوړې دنګې او مخ په ځوړ ډبرې یوه لړۍ ده چي ایبک له بغلان څخه جلا کوي. دا ډبره لړ تر لږه د ۲۰۰۰ فیټو په لوړوالي د انجیر له درې څخه سر پورته کوي او په منځ کي ئـي د میرزا هدبیل

[5] - Pir Nakchir
[6] - Sarga Baba Kara
[7] - Zai Baba Kara
[8] - Tolagachi Uzbaks

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

لړي پر مخ ځي. هغه بنسټيزي لاري چې ورځخه تيريږي د شيريک يار او اخته خاني کوتلونه دي. (ميتلند) *اوسنۍ نقشې همدا شان د بابه لر په نامـۀ يو کلی هم ښيي.*

بچه دره: يوه ډبرينه اوږده تنگه دره ده چې د چاريکار – ايبکو لاره له رباط ځخه د ميرزا هد کوتل پر لور ورکوزيږي. (اې. بي. سي.)

باد آسيا: آسيا باد: ۲۳ – ۳۶، ۵۴ – ۶۷ (ن): د «سرِ کياب[9]» په نامـۀ هم ياديږي.

دا د تاشقرغان د ولسوالۍ د غزنيگک په علاقه دارۍ کې يو کلی دی. دا کلی د تاشقرغان د سيند په کيني غاړې کې د ايبکو د شمال لويديځ په ۱۴ مايلۍ کې واقع دی. ميتلند وايي چې باد آسيا او سرِکياب دوه کلي دي چې تل دوه ډلې خلک په کوې ژوند کوي - يوه ډله ئـې په دوبي کې ورته راځي او بله ئـې په ژمي کې. تر هغه ځايه چې له ليرې په سترگو راځي دواړه کلي د بې وزلو خلکو د خور ورو کوډليو او جونگړو يوه ټولگه ده. دلته د وزبيکانو ۱۰۰ کورنۍ استوگنې دي. (ميتلند)

باد باز: ۱ – ۳۶، ۲۸ – ۶۴: دا د ميمنې په ولسوالۍ کې يو تگاو دی چې له شماله راکوزيږي او له غلبلې ځخه نيږدې يو مايل کښته د قيصار پر درې باندې ورننوځي. (پيکاک)

* **باد قاق**: بد کک: ۶ – ۳۶، ۳۹ – ۶۴ (ن): دا د «اورتيپې» په سويل کې د ميمنې د سيند پر غاړه د حسن بولک مخالف لور کې يو کلی دی.

باد قاق: وگورئ: بد کک

بادق: وگورئ: الکه

باد قاق: بدکک: دا يو کوتل دی چې د تاشقرغان د سيند له درې ځخه په سرخاب کې منتهي کيږي. لنډمهالي مجله يوه دره د نـوَرَک د شمال ختيځ په ۱۶ مايلۍ کې په ۳۷ – ۳۵، ۴۵ – ۶۶ (ج) کې ښيي.

باد پشت: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا د آق کپروک د ولسوالۍ په سويل ختيځ کې يو کلی دی. دې کې د آق کپروک چهار کنت هم راځي. دلته د وزبيکانو ۲۰ کورنۍ استوگنې دي. (اې. بي. سي.)

* **بغل شيخات**: ۳ – ۳۶، ۳۱ – ۶۷۶ (ن): دا په يوۀ منځغري کې دوه کلي دي، دا منځغری د صوف د درې په سويل لويديځ پورې منتهي کيږي.

* **باغچه کتي**: فتي: ۳۳ – ۳۶، ۱۸ – ۶۷ (ن): دا د مارمل په لويديځ او د مزارشريف په سويل ختيځ کې يو کلی دی. دا کلی له مارمل ځخه ۳ مايله ليرې دی.

باغ اراک: ۴۵ – ۳۶، ۵۶ – ۶۶: دا د نهرِ مشتاق پر غاړه يو کلی دی چې له مزار شريف ځخه ۳ مايله ليرې له بلخ ځخه تر مزارشريف پورې سړک پر غاړه واقع دی. د دې کلي اوسيدونکي تگاويان (کابلي فارسيوانان) دي. په ۱۸۸۶ز کال کې دې کلي کې ۴۰ کورنۍ وې. (ميتلند)

* **باغ بوستان**: ۵۶ – ۳۶، ۳ – ۶۵ (ن): دا د اندخوی د سويل لويديځ په ۵ مايلۍ کې يو کلی دی.

باغ اسحق: ۴ – ۳۶، ۱۸ – ۶۶: دا په سنگچارک کې د سرزي کلان د سويل په ۳ مايلۍ کې يو کلی دی. دې کلي کې د وزبيکانو او تاجيکانو ۵۰ کورونه دي. د دې کلي نوم د (بابرسک) په ډول تلفظ کيږي او هم د «بـَورسه کلا» په نامـۀ

[9] - Sar -i -Kiab

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

یادیږي. (میتلند) *اوسنۍ نقشې دا نوم د (باورسق قلعـه) په ډول لیکي. بل کلی چې د باغ اسحق په نامـۀ یادیږي په سویل کې په ۱ – ۳۶، ۱۷ – ۶۶ کې موقعیت لري.*

بغلان: ۵۷ – ۳۵، ۳ – ۶۸: د بغلان په ګذر کې، په خرم کې له دِه اصیل ۲/۱ ۵ مایله کښته، د تاشقرغان د سیند له سره د خښتو یو کپروک یا پل تیر سوی دی.

دلته د کابل- بامیانو – مزارشریف له سړک څخه د اوښ د تګ یوه لاره د ارچې کوتل ته جلا کیږي.

"په ۱۹۱۲ز کال کې په بغلان کې د تاشقرغان د سپارۀ ځواک د یوې رسالې ګارنیزیون وو."

باغشور: ۵۶ – ۳۶، ۵۰ – ۶۶: دا د بلخ – کِلِف (کیلفت) د لارې په اوږدو کې یو کلی دی. دا کلی د دولت آباد نهر ته نیږدې واقع دی چې د دې نهر یوه څانګه (نهرِ باغشور) ئـې تر څنګ بهیږي. کلي ته نیږدې د نهرِ دولت آباد پر سر د خښتو یو پل تیر سوی دی. (عطاء محـمد) اوسنۍ نقشې دا نوم د (بکشور) په ډول ښیي.

باغشور: ـ ۳۶ ، ـ ۶۶: د هژده نهر په نهرونو کې یو نهر دی.

بهارک: ۵۴ – ۳۵، ۲۵ – ۶۶ (ن): دا د سنګچارک د ولسوالۍ د توکزر په علاقه دارۍ کې یو کلی دی. دا کلی د توکزر تګاو په پورتنۍ برخې کې واقع دی ، په خپله توکزر تګاو له دې کلي څخه د کلي سویل ته ۳ مایله لیرې واقع دی. په ۱۸۸۶ز کال کې دې کلي کې د وزبیکانو او تاجیکانو ۱۳۰ کورنیو ژوند کاوۀ. (اې. بې. سي.)

بهاء الدین: ۴۹ – ۳۶، ۵۸ – ۶۶: دا د نهرِ مشتاق پر غاړه د بلخ په شمال ختیځ کې یو کلی دی. دې کلي کې د عربانو ۴۵ کورنۍ میشتې دي. (اې. بې. سي.) د لنډمهالي مجلې پر بنسټ دا کلی د وزیر آباد د ختیځ په ۲ مایلۍ کې په ۴۶ – ۳۶، ۵۸ – ۶۶ کې واقع دی؛ خو دا له پورته ویل سویو معلوماتو سره سمون نـۀ خوري. د کمهرد په درې کې له سرپل څخه تقریبا ۷ مایله کښته د «زیارتِ بهاء الدین» په نامـۀ یو زیارت سته.

بهرام شاه: ۲۰ – ۳۶، ۱۱ – ۶۷: په «دره بهرام شاه» کې د چهارکنتِ مزارِشریف سویل کې شاه انجیر ته نیږدې یو کلی دی. دې کلي کې د وزبیکانو ۳۵ کورنۍ میشتې دي. (میتلند) په همدغـۀ نامـۀ یوه اوږده تنګه دره د بوینقرې د شمال ختیځ په ۲۰ مایلۍ کې په ۲۶ – ۳۶، ۶۶ – ۵۷ (ن) کې سته. دا نوم د بیرام شور په ډول هم لیکل سوی دی.

بای: ۴۲ – ۳۵، ۳ – ۶۶ (ن): دا د سرپل د ولسوالۍ د کنچه په علاقه دارۍ کې دوه کلي دي. دا کلي د جرغان د سویل - سویل لویدیځ په ۱۶ مایلۍ کې په کچان دره کې موقعیت لري. میتلند وایي چې دغو کلیو کې د شاهي هزاره ګانو ۱۶۰ کورنۍ استوګنې دي. امام شریف بیا د وزبیکو د ۱۰۰ کورنیو وګړ – شمیر ورکوي. (اې. بې. سي.) اوسنۍ نقشې د تګاو – بای نوم ښیي.

بیاد: (بیادان – ژ): دا د وزبیکو یو قوم دی چې پخوا ئـې له کِلِف څخه تر بوسه ګه پورې د اوبو تر غاړو سیمو کې ژوند کاوۀ. دوی د تارتارانو د یوۀ یرغل په ترڅ کې له منځه لاړل. (بیادان) اوس د سیردریا په اوږدو کې ژوند کوي دوی د اکسوس له غاړو څخه نادر شاه (افشار- ژ) ایستلي ول. (پیکاک)

* **بایا کشلي**: ۳۰ – ۳۶، ۱۴ – ۶۵ (ج): دا د دولت آباد د ختیځ په ۲۲ مایلۍ کې یو ځای دی.

بیان چر: (غور): ۳۱ – ۳۶، ۱ – ۶۶ (ن): دا شبرغان – علي مغل د لارې د سویل په اوږدو کې د ۵۰۰ فیټو په لوړوالي د غونډیو یوه لرۍ ده. (پیکاک)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بایاني: ۱۲ ـ ۳۵، ۴۷ ـ ۶۷ (ن): دا د سیغان په درې کې یوه لویه دره ده. دا دره د سیغانو د درې د ختیځ په ۹ مایلۍ په هغې برخې کې ده چې دره مخ پر شمال او سویل پراته مومي. دلته د تاجیکانو ۶۰ کورنۍ استوګنې دي. (میتلند)

بابیاغه: دا د دایکنډۍ هزاره ګانو یوه کوچنۍ څانګه ده چې په ترنک قره کې د آق کپروک د ولسوالي د کیشیندي په علاقه دارۍ کې استوګنه ده. دوی شیعه ګان دي. (اې.بي. سي.)

بای غسي: ۴۴ ـ ۳۵، ۳ ـ ۶۴: دا د میمنې په ولسوالۍ کې له قیصار تر چهارشمبې پورې د لارې په اوږدو کې یو کلی دی. دا کلی په یوې سر شیوه غونډۍ یا تراس باندې د درې په سویلي برخه کې د یوۀ تګاو په خولـۀ کې، له چهارشمبې څخه ۶ مایله لیرې واقع دی. (میتلند)

بای غازي: ۱ ـ ۳۶، ۰ ـ ۶۷ (ن): دا د صوف په دره کې د «دِهي[10]» په لویدیځ کې یو کلی دی. له دِهي څخه یوه لاره تر باغازي پورې تللې او بیا د بای غازي د کوتل له سره تر آق کپروک پورې تللې ده. ویل سوي چې تر بای غازي پورې واټن ۲۰ مایله دی خو نقشه تر دې لږ واټن ښیي. میتلند د دې کلي د وګړو شمیر د «چکانه تورکانو[11]» ۴۰۰ کورنۍ ښیي؛ او بله شمیرنه وایي چې دا د بای غازي هزاره ګانو ۲۰۰(؟) [ښایي موخه ئـې کورنۍ وي ـ ژ] په دریو قشلاقونو کې دي. د دې کلي اوبـۀ د اوبو له دوه وو چینو یا ویالو څخه دي او پریمانه دي. د بای غازي کوتل د (دره هچه[12]) په سر کې دی چې د آق کپروک پر مخ تللی دی. ویل سوي چې دا کوټل ټیټ او ډبرین دی. کښته کیدل ورڅخه شیوه دي او ستوغ والـۀ ئـې تر ختلو ډیر دی. ویل سوي چې «لاره» ئـې (چیچل) یعنی د پریک سویو یا ماتو سویو ډبره په منځ کې ده چې په داسې حالت کې ډیره شوني ښکاري چې د تګ لپارعملي لاره نـۀ وي یا لږ تر لږه د اوښانو د تګ لپاره به ګرانه وي. (اې.بي.سي.)

بای غازي: ـ ۳۵، ـ ۶۴: دا د میمنې د المار په علاقه دارۍ کې یو کلی دی. دلته د (الچ وزبیکانو[13]) د «بای غازي» د څانګې ۵۰ کورنې اوسیږي. (اې.بي.سي.)

بای غازي: د کـَرَشکه / قـَرَشکه[14] لپاره بل نوم دی.

بای غازي: ۴ ـ ۳۶، ۴۰ ـ ۶۴ (ن): دا په شیرین تګاو کې د میمنې د ښارګوټي د شمال ـ شمال ختیځ په نیږدې ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

دې کلي کې د وزبیکانو ۲۵ کورنۍ میشتې دي. (اې.بي.سي.) اوسنۍ نقشې دا نوم د «بای غوسي» په ډول لیکي.

* **بیخام:** ۴۲ ـ ۳۵، ۸ ـ ۶۴ (ن): دا له قیصار څخه تر چهارشمبې پورې د لارې په اوږدو کې د قیصار د لویدیځ په ۹ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **بیخان:** ۱۴ ـ ۳۷، ۲۳ ـ ۶۵ (ن): دا د شوروي اتحاد سرحد ته نیږدې د چهار باغ په شمال ختیځ کې د ترووا اوبو یوې څاه ته نیږدې یو کلی دی.

---

[10] - Dehi
[11] - Chakana Turks
[12] - Dara Hacha
[13] - Allach Uzbaks
[14] - Karashka

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **بي مغلي**: بي مغولي: ۷ – ۳۶، ۵۱ – ۶۴: دا د ينگي قلعي شمال کي او په شيرين تگاب کي د فيض آباد سويل کي يو کلی دی.

بای موخلي: بای مغلي: ـ ۳۵، ـ ۶۴: دا د ميمني د ولسوالی په سويل کي يو کلی دی چي د «تيلان[15]» په منځغري کي موقعيت لري. دلته د (سنغ علي وزبيکانو[16]) ۸۰ کورونه دي. (اي.بي.سي)

* **بيسار**: ۴ – ۳۶، ۱۴ – ۶۶ (ن): دا د کچان د سيند پر غاړه د خواجه کلا په سويل کي د تنزيل شمال کي يو کلی دی.

* **بيشاريغ**: ۳۶ – ۵۶، ۱۲ – ۶۶ (ن): دا د آقچي د شمال ختيځ په څو مايلی کي يو کلی دی.

بيتالوشتي: دا د آق کوتل شور يوه کوچي ځانگه ده.

بيا- ها: يا: بيا گان: دا د تجند په ولسوالی کي د هزاره گانو يوه کوچنی ځانگه ده .

بيزه: بيضه: ۴۶ – ۳۵، ۳۹ – ۶۶ (ن): دا د سنگچارک د ولسوالی د امرخ په علاقه داری کي يو کلی دی. دا کلی دی «زريل د سيند[17]» په کيني غاړي کي له «زري بازار» څخه ۱۸ ۲/۱ مايله پورته واقع دی او ميتلند وايي چي دي کلي کي د «الله ياري تاجيکانو» ۷۰ کورنی اوسيږي؛ خو صاحبدان خان چي د ۱۸۸۵ز کال د نوامبر په مياشت کي دلته دمه سوی وو وايي چي دي کلي کي د تاجيکانو ۱۶ کورونه ول.

دلته د پريمانو اوبو يوه چينه سته او هم نسبتاً ډيره للمي کرهنه د تيټو غونډيو په ډډو کي او د چم گاونډ د ځمکي په کنډو کي سوي ده. دلته د پوځ د قرار گاه اچولو لپاره ځای نـهٔ سته؛ خو لږ و ډير ۲ مايله شمال ختيځ خوا ته او د نورک په مقابل لوري کي د اساسي سيند د تشي په ختيځي ډډي کي يو کلی دی چي (ايران) نوميږي همدلته يو مخ خلاصی ځای سته خو ډير هموار ځای نـهٔ دی. دلته د ميوو څو بڼونه دي خو د امرخ په نورو ځايونو کي نـهٔ سته. (اي.بي.سي.) د بيزه يا بيضه کلی د نورک د سويل په ۱ مايلی کي د «دزدان دری» د سيند پر غاړي دي.

باجگاه: ۲۱ – ۳۵، ۵۲ – ۶۷ (ن): لوړوالی: ۵۷۰۰ فيټه. دا د کهمرد په دري کي يوه ورانه ويجاړه کلا او يو کلی دی چي له «دو آبِ ميخ زري» څخه ۱۴ مايله پورته او د هغـهٔ منځغري په سويل کي واقع دی چي په قره کوتل منتهي کيږي. دا کلی د سيند د غاړي په شمال کي په هغـهٔ ټکي کي واقع دی چي له پاسه ئـي د ۱۵۰۰فيټو په لوړوالي غرونه تر ډيرو برخي پوري په عمود ډول پورته کيږي خو کرار کرار د څوکي پر لور له عمودي حالته په شيوه حالت اوړي. د ۱۸۴۰ز کال د پوځي عملياتو په لړ کي د (ډاکټر لارډ[18]) په توصيي د (تورن هي[19]) د «گورکه[20]» کنډک دي کلا کي مفرزه واچوله. نوموړی د ۱۸۴۰ز کال د جولای په مياشت کي باجگاه ته ورسيد. د آگست پر لومړی د بريدگي دگلس تر بولني لاندي دوه قطعي د کهمرد پر لور واستول سوي چي د تورن هي ځای ونيسي ځکه نوموړی ناروغ سوی وو چي د گڼ شمير «آجريانو» تر بريد لاندي راغی او د يو شمير تلفاتو په گاللو سره ئـي وکولای سول بيرته باجگاه ته شا تگ وکړي. دآگست پر ۳۰ نيټي وزبيکانـو پـر دي کـلا بـاندي بـريد وکـړ او لـه دي چي د (امير ـ ژ) دوست محمد

[15] - Tailan
[16] - Sungh Ali Uzbaks
[17] -Zaril stream
[18] - Dr. Lord
[19] - Captain Hay
[20] - Gurkhas

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

(خان ـ ژ) او وزبیکانو تر اخطار او تهدید لاندې راغلل مجبور سول چې سیمه پریږدي او د ۱۸۴۰ز کال د سپتمبر پر ۱۹ نیټه سرتیري بیرته بامیانو ته په شا سول. همدا شان د۱۸۶۴ز کال کې د جون په میاشت کې دلته یوه جګړه وسوه، داسې ښکاري چې د سلطنتي تاج د نیولو د جګړې په لړ کې افضل خان د باجګاه د کلا لویدیځ او همدا شان قره کوتل په کلا ګانو کې مورچلونه نیولي وي.

دا کلی او د باجګاه د میوو ښونه د اساسي درې په کښتنی برخې کې دي. دې کلي کې د تاجیکانو ۲۰ کورنۍ استوګنې دي. میتلند چې دې ځای ته په ۱۸۸۵ز کال کې ورغلی وو وایي: -

که څه هم ځینو علاقه درلوده چې دا دې په ۱۸۴۰ز کال کې د برتانیې تر ټولو لیرې پوسته وي خو په خپله کلا د اهمیت ځای نـۀ دی. څو تنه لا تر اوسه په کې ژوند کوي، یوۀ زاړۀ سړي راته وویل چې د دۀ برتانویان په یاد دي چې دا ځای ئـې نیولی وو."

" د قره کوتل لاره اوس د یوۀ منځګړي له منځه کیڼ لور (شمال) ته تاویږي. دا تنګی له ۶۰ تر ۸۰ یاردو پورې ارت دی چې نرم شګلن بیخ لري. یوه کوچنۍ کم عمقه ویالـۀ ئـې له منځه په مارپیچ ډول تیریږي او یوه لاره ورڅخه تیریږي چې همواره او ښه لاره ده. د تنګي په دواړو ډډو کې ډبرې ډیرې لوړې دي، عموداً ولاړې دي او په مطلق ډول لاسرسی ورته ناشونی دی. دلته د برتانوي نیواک پر مهال هغه لنډمهالی مورچل چې برتانویانو اچولی وو لا تر اوسه سته. ما له دې ځایه لږ پورته کیڼ لور ته یوشمیر سمڅې ولیدلې. " د دې تنګي تر ټولو تنګ ځای د باجګاه له کلا څخه نیږدې نیم مایل لیرې ده. دلته دا تنګی ګرد چاپیره ۵۰ یاردې دی. له دې وروسته د دې ډبرو لوړوالی په چټکی مخ په ټیټیدو سي، خو بیا هم تر نیږدې نیم مایل پورې نور هم ناهمواري او د لاسرسی وړ نـۀ دي، چې ورپسې دا دنګه لړۍ دا تنګی ماتوي یا ئـې په کنډو بدلوي او ورپسې د همدې تنګي شمالي خوا ته تاسو پر یوې نسبتاً کرهنیزې درې ورننوځئ."

" دا تنګی له دواړو خواوو دفاعي قابلیت لري تنګي ته د سیاه ریګ د کوتل له لارې هم ور اوښتای سئ چې لویدیځ لور ته ۲/۱ ۳ مایله لیرې دي. همدا شان د کوتلِ نای جوشک لاره هم سته چې له دشتِ سفید کښته، سویل لویدیځ لور ته ۶ مایله لیرې له درې څخه وځي او د سوکله یا سرخ کلا په درې کې له غرونو څخه تیریږي چې دا د «دو اَو شاه پسند» په ختیځ کې ده. دا یوه نسبتاً سخته او اوږده لاره ده خو د سپارۀ ځواک او با وړونکو کچرو لپاره د تګ عملي لاره ده. ما په دې هکله لږ معلومات لاس ته راوړي دي. (دلته زما له راتګ وروسته دا ځای بیا پلټل سوی دی. وګورئ: "مغزار") د کهمرد د درې سر ته له (اَو خورَک) څخه د یوې بلې سختې پل لارې له لارې ورختلی سئ چې د «لورینج» په تنګي کې د لورینج کوتل ته منتهي کیږي او په پای کې له «اَو خورک» څخه یوه لاره تللې چې «سرِ پـُل کمرد» ته له غرونو تیریږي او دا هماغه ځای دی چې موږ کمپ په کې وهلی وو. زما په باور دا په مطلق ډول له شمال څخه ټولې هغه لارې دي چې د کمرد پر درې راځي. یوازینۍ بله لاره چې دې درې ته راځي له «ولیشان» څخه په لویدیځ کې تر «هاجر» پورې ده؛ او د «دالیانِ ایسکر» له لارې، او پورته په ختیځ کې له سرخابه تر دو آبِ میخ زرې پورې. دو آبِ میخ زرې هم یوه مستقیمه لاره د سیغانو ختیځ پای ته راوړي، خو په دغو لارو کې یوه لاره ئـې هم ښـه لاره نـۀ ده او دواړه ئـې د تاشقرغان – بامیان له کرښې ډیرې لیرې دي. دلته یو ټکی باید په پام کې ولرو چې وروستۍ یاده سوې لاره په آسانۍ سره د باجګاه د تنګي او د سیاه ریګ د کوتل په نیولو سره په آسانۍ سره بندیږي چې د نورو لارو څارلو ته موقع برابره سي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

" د باجگاه د تنگي په شمالي پای ټکي کي دره د دوه وو (؟- ژ) د يوځای کيدنکي له ټکي څخه جوړيږي چي يو ئـي له کيڼ لوري (لويديځ خوا) او بل ئـي له مخي (شما په ختيځ لوري) راغلی دی.

ياده سوي دره لويه دی او د دوشاخ کلی په کي دی. اته مايله شمال ته تاسو د بلي لړۍ ډبريني دنگي څوکي ليدلی سئ چي قره کوتل دی. له همدي ځايه اوږدي ټيټي غرنۍ څوکي د درو د يو ځای کيدنو تر ټکيو پوري غځېدلي دي او د سرو او سپينو خاورو لويدلو خاورينو غونډيو يوه ډله د دوشاخ دره بندوي چي له دوه مايلو ډير اوږد والی نـۀ لري. دا دره شنه او په بوټو ډکه ده او همداشان کرهڼه په کي سوي ده. کيڼ لور ته يوي تنگي اوږدي دري ته نغوته سوي چي له منځه ئـي د (دو ور) اوبـۀ راپورته کيږي. د سياه ريگ د کوتل پر سر لاره لومړی (دو رو) ته او بيا دو شاخ ته ځي. يوه لاره چي دا هم له عمومي لاري سره يو ځای کيږي او په دي توگه «مدر» ته ځي بله ئـي د خاورينو غونډيو له سره يوۀ ډبرين تنگي ته ځي چي د «کوچه» په نامـۀ ياديږي او له همدي ځايه د «کوچه» پر «کوتل» باندي ورخيږي او بيا د «اَو خورک» د غرنۍ لړۍ پاس ته ځان رسوي. (آی.بي. سي. ميتلند) *د باجگاه په نامـۀ يو کلی په «دزدان دره» کي موقعيت لري، دزدان دره د درياي بلخ يوه څانگه ده چي په ۳۹ – ۳۵، ۳۵ – ۶۶ (ن) کي موقعيت لري. همدا شان په همدغـۀ نامـۀ يو غر دی چي له بلخ څخه ۲۰ مايله ليري او د قلعـۀ نـورَک په سويل لويديځ کي په ۳۹ – ۳۵، ۳۳ – ۶۶ (ج) کي موقعيت لري.*

بکاول: دا د ارسري تورکمنانو يوه څانگه ده.

* **بخشور**: ۵۵ – ۳۶، ۵۰ – ۶۶ (ن): دا د بلخ د شمال – شمال لويديځ په ۱۶ مايلۍ کي يو کلی دی. اوسنۍ نقشي دا نوم د بکشور په ډول ليکي.

بختگان: ۴۸ – ۳۵، ۳۸ – ۶۶ (ن): دا د سنگچارک د ولسوالۍ د امرخ په علاقه دارۍ کي د توکزر په سويل ختيځ کي يو کلی دی. دا کلی د زري د سيند په کيڼي غاړي کي واقع دی او د الله ياري تاجيکانو ۵۰ کورنۍ په کي ژوند کوي. (امير خان) دا کلی د نورک کلا د شمال په ۴ مايلۍ کي واقع دی.

بختياري: ۴۷ – ۳۴، ۱۷ – ۶۷(ج): دا د صوف په دري کي د کلا سرکاري د سويل په ۸ مايلۍ کي يو کلی دی. دلته د (ايماخ) «؟ - ژ» تاجيکانو ۷ کورنۍ استوگني دي. (امير خان) [ښايي موخه ئـي ايماق وي]

* **بالابان**: ۳۸ – ۳۵ ، ۲۱ – ۶۴ (ن): دا د قيصار په سويل ختيځ او د درياي باغران په لويديځ کي يو کلی دی.

بالاگالي: (بلغلي): ۲۵ – ۳۵، ۴۹ – ۷۶: دا د دو آب په ولسوالۍ کي يو کلی دی او د هغي لاري په اوږدو کي واقع دی چي له قره کوتلِ پائـين څخه تر دِهي پوري په دره يوسف کي شمال لويديځ لور ته ځي او له دره يوسف څخه ۸۱ مايله ليري دی. دا کلی په يوۀ کوچني تنگي کي د گچو يا د آهکو پر يوۀ ستر او لوړ گړنگ باندي واقع دی؛ دا گړنگ له لويديځ لوري راځي او د بالاگالي له اساسي تنگي سره چي استقامت ئـي مخ پر شمال او سويل دی يو ځای کيږي. دلته د ډيرو ښو رڼو اوبو يو چينه هم سته چي د اوبو لگولو يوۀ کانال ته اوبـۀ برابروي. دي کلي کي د «شاخاني بيسود هزاره گانو» ۲۰ کورنۍ دي. «گريسباخ». ښاغلی گريسباخ وايي چي هغه کوتل چي دغه لاري د بالاگالي او چيل تر منځ تنگيو څخه تيريږي د بالا گالي د کوتل په نامـۀ ياديږي. دا ښايي هماغه کوتل وي چي د دي ځای بومي خلک ئـي د قشقه په نامـۀ يادوي. لوړوالی ۹۳۳۰ فيټه؛ دا لاره د کچرو د تگ لپاره عملي لاره ده. د امريکا جيولوژيستکي سروي د بالاغلي کوتل په نامـۀ يو کوتل په ۳۶ – ۳۵، ۳۶ – ۷۶ (الف) کي ښيي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

بالاقره: ۲۱ ـ ۳۶، ۲۸ ـ ۶۷: دا د تاشقرقان د پیر نکچیر په علاقه داری کي دی. پیکاک دا ځای په دې ډول یادوي چې وایي: دا ځای د هغـې لارې په اوږدو کي واقع دی چې سویل لویدیځ پلو له پیرنکچیر څخه پیل کیږي او له (اورلمش) څخه ۲/۱ ۱۳ مایله لیرې د شادیان ـ اورلمش له لارې سره یو ځای کیږي. پیکاک وایي چې دلته درې څاه ګانې سته، پریمانه اوبـۀ لري او هم د ۵۰ وزبیکو کورنیو یو قشلاق دلته سته. (ای. بي.سي.)

بلنګور: وګورئ: بلند غار

* بلنګور: ۴۰ ـ ۳۵، ۲ ـ ۶۲ (ن): دا د «دریا هیرک[21]» په درې کي یو کلی دی، دا کلی د میرک د سویل ختیځ په ۳ مایلی کي د چهارشنبي په سویل ختیځ کي واقع دی.

بلدِه دره: ۴۱ـ ۳۶، ۱۴ ـ ۶۵: دا په «دره شاخ» کي په همدې نامـۀ کلي څخه ۲/۱ ۱۰ مایله کښته یو تنګی دی. د افغان دوه شپیتمه (ب) شمیره لاره له شماله د لویدیځ پر لور، له «دره شاخ» څخه تر «بلچراغ» پورې د همدې تنګي له منځه تیریږي او دا لاره د اوښانو د تګ لپاره عملي لاره نـۀ ده. د دې تنګي له منځه هغه سیندګی تیریږي چې په مني کي دوه فیټه ژور وو او د اوبو د چټک بهیر له کبله بلې غاړې ته اوښتل ورڅخه ډیر ګران ول. تنګي ته د ننوتلو خولې ته نیږدې د تودو اوبو یوه چینه دی چې د «حمام چشمه» په نامـۀ یادیږي. (ای. بي.سي.)

بلغلي: ۷ ـ ۳۶، ۳ ـ ۶۶ (ن): دا د سرپل د سیند په کیڼې غاړې کي د سرپل له ښارګوټي (د ښارګوټي سویل ختیځ خوا ته) لس مایله پورته یو کلی دی. دې کلي کي د (اچه میلي وزبیکانو[22]) ۴۰ کورنۍ استوګنې دي. ګریسباخ وایي چې بلغلي د استراب یوه علاقه داري ده او له دغو کلیو څخه جوړه ده: الف سفید، لغمان، ادرینګ، بلګالي، سوخته (وران ویجاړ دی)، کل قشلاق او بوغای. خو ګریسباخ کومه احصائیوي شمیره نـۀ ورکوي خو وایي چې د دې علاقه داری خلک اکثراً هزاره ګان، تاجیکان او وزبیکان دي. (ای. بي. سي.) همدا شان په دې نامـۀ یو کوتل هم سته چې بلغلي لیکل کیږي؛ دا کوتل د علاء الدین د شمال لویدیځ په ۳۴ ـ ۳۵، ۳۶ ـ ۶۷ (الف) کي واقع دی.

بلغلي: ۴۵ ـ ۳۵، ۲۴ ـ ۶۴: پیکاک په دغـۀ نامـۀ یو کلی د «نارین د درې» په جناحي درې کي یادوي چې د میمنې د (چیچکتو[23]) یوه علاقه داري ده. له «زیارت سَور[24]» څخه یوه لاره ورته راغلي ده، دا زیارت له المار څخه تر قیصار پورې له تللي لارې څخه ۲/۱ ۱۳ مایله لیرې دی. خو میتلند دا ځای د خپلو کلیو په لیست کي نـۀ یادوي. (ای. بي. سي.)

نور بیا

بلخ: *بلخ د لرغونـي «باختر[25]» په منځ کـي د یوۀ کلـي...*

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

[21] - Daria Herak
[22] - Achamaili Uzbaks
[23] - Chichaktu
[24] - Ziyarat Saur
[25] - Bactra

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ